AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

ډاکټر لمر

۲۰۱۳/۰۳/۰۵

# سواتۍ ملاله د نوبل جایزې په درشل کې

ځيني لوستونکي به بيا د ميوند ملالې او د سوات د ملالې پرتليزه ګوابښونه کوي او ما ته به تېنګتي کوي، چې بيا دې د سوات ملاله ياده کړه. زه هم نه پوهېږم، چې ولې مې د دغه معصومې نجلۍ تاريخي رسالت ته پام شوی، د پوهنيزې مينې ولولې مې په ذهن کې پياوړې کېږي او د ملالې يادون مې په کراره نه پرېږدي. که د ميوند ملاله مې د تاريخ په پاڼو کې او د شاعرانو د شعرونو په څپو کې انځور کړې ده، مګر د سوات ملالې انځور مې د دې له ۱۲ کلنۍ ځارلی، د دې شهامت مې د ليک لوست په اړه په سترګو ليدلی او په هغه ورځ چې د ملالې د وېشتلو انګازه لکه خپسکه په زړونو خپره شوه، نو وېر يې تر ما هم راورسېدلو او له همغه ورځې مې د سوات د ملالې په اړه يو څو کرښې د قلم په وېنه او بشري مينه ورته وکاږلې.




نن مې بيا يو خبر ولوست، چې سږ کال تر ۲۵۹ تنه د نوبل د سولې جايزې لپاره نوماند دي، چې د امريکا پخوانی جمهور رئيس بيل کلينټن هم دغه جايزې ته نوماند دی، مګر زما سترګې بيا د سوات په پښتنه ملاله ولګېدلې، خو يو شي يې زما زړه ټکنده کړ، چې په ټولو رسنيو کې د سلهاو ميليونونو پښتنو په استازيتوب د پاکستان نوم ورسره نښلول شوی دی، ځکه د ډيورند يوه خيالي کرښه ده، چې د ملتونو وياړونه هم پردي کوي، خو بيا هم د سوات د ملالې په هويت کې د سيمې د علم د ډېوې شغلې خپلې لمبې نورې هم پياوړې کړې، چې مشال يې بيا هم همدا پنځه لس کلنه سواتۍ ملاله ده، چې نورې نجونه او خلک الهام ترې اخلي.

په افغانستان کې د کانکور آزموينه هم تېره شوه. له ډايکوندي ۳۵۰۰ تنو آزموينه تېره کړه، چې ۳۲۰۰ تنه يې لوړو زده کړو ته جذب شول او د اکثريت نومري يې ۳۲۰ يا ۳۲۲ وې، چې يو عجيبه تصادف ته ښودنه کوي، مګر له ټول «لوی» ننګرهاره بيا له ۱۲۰۰۰ متعلمينو صرف ۲۰۰۰ په دې وتوانېدل چې د پوهنتونونو انګړو ته ورودانګي، خو په پوهنتون کې بيا ورته د پاړسو دهشکه ابښې ده، چې د لومړي او دويم تدريسي کال په ترڅ کې به لکه غرنۍ شمتولې وځنل شي او د پوهنتون انګړ به ترې پاک او شغالي شي. د کندهار او روزګان خبره به نه کوم، چې بيا به ځوک راته بوخ شي، خو له ټول زابله ۳۰۰ تنو په آزموينه کې ګډون کړی وو، چې د ګوتو په شمار يې پوهنتونونو ته لاره پيدا کړه، نو دا شو د پوهې او زغم انځور په پښتنې سيمو کې او د چلول ماشين د کرزي په واکمنۍ کې، چې مارشال صيب هم اوس افتخاري ډاکټر شو.

د سوات ملالې د پوهې غږ په غرنۍ سيمه کې پورته شو، خو په سر ولګېدله، د کوپړۍ نيمه يې والوتله، کيڼ غوږ يې کوڼ شو او د خپل معصوميت ښايست ته يې صدمه ورسېدله، مګر بيا هم ځيني کيڼ



اړخي او سپين اړخي ورته سپکې سپورې وايي. يو شمېر يې وايي، چې ملاله د دې وړ نه ده، چې د ملالې په وينو مينځل شوی تاريخي شهامت وګټي، چې حتی بنسټپالي سيمين عمر په خپل تلويزيوني پروګرام کې هم د خپلو افراطيونو په ننګه د ملالې نوم ګواښلی دی او د چپي ستميانو ډېرو پاڼو د دې ټينګتي کړې، چې ولې ملالې ته د نوبل جايزه ورکول کېږي!

ملالې په خپله ۱۲ کلنۍ خپل تاريخي نوم وګټلو، خو د سر د وينو په توئيدو نړيوال شهکار وګرځېدله، چې د نړۍ په ميليونونو خلک يې د خپل زخمي سر په وينو د وېر په ټغر کېنول. د ملالې په ياد په ميليونونو مومبتۍ روښانه شوې، ډېرې تيرې کوڅې يې روښانه کړې، چې ډېرې پېغلې يې د پوهې د شمعې پتنګانې شوې. لکهاو ميندو خپلو لوڼو ته د ملالې نوم ورکړ، ځکه ويل کېږي: هر نوم ملاله دی او هره پېغله ملاله شوه. ډېر ماشومان، ځوانان اوپېغلې د نړۍ په هر ګوټ کې د دعا لپاره په ګونډو شول او خپلې لپې يې خدای ته پورته کړې، چې د ملالې ژوند وژغورل شي، چې د خلکو دعا هم د خدای په دربار کې ومنل شوه او ملاله نن ژوندۍ ده او ليا يې د عبرت نور روښانه شوی دی، چې ليا ډېر نور



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ګوټونه به رڼا کړي.
ملالۍ د خپل ډېر لنډ ژوند په ترڅ کې ډېرې ناخوالې ولیدلې، په سیمه کې په تدریجي بڼه وګواښل شوه، چې آخر یې په سر وویشتله، د مرګ او ژوند په سپنسۍ لکه د صراط په پله تېره شوه. د پښتونستان او انګلستان په روغتونو کې څو ځله عملیات شوه، چې وروستی عملیات یې لیا څه موده مخکې د انګرېز د برمېنګهم په یو روغتون کې وو، چې د سر کوپړۍ یې ورته وسپېنې کړه، غوږه یې ورته ماشیني کړ، ځکه یوه تخنیکي آله یې ورواچوله، چې اوسمهال یې روغتیا مخ پر ښه کېدو ده او ناشنوا غوږ یې بیا شنوا شو، په شونډو یې موسکا پیدا شوه او په وینه کې یې بیا د مبارزې تودوښه وځغلېدله، چې په مینوالو کې یې د هیلو څپې وخوځولې!
وروسته له ټولو عملیاتونو د سواتي ملالۍ مخ لږ شانته کوږ دی، د کیڼې خوا مخ یې د ښۍ خوا په پرتله ښوی دی او د خولې کیڼ پلو یې لږ ځړېدلی دی! نو درنو لوستونکو دغه د مخ د کیڼې خوا عصبي ریښو  یې د لګېدلې مرمۍ په ترڅ کې تر یو برېده صدمه لیدلې ده، چې د ظالم د مرمۍ د ویشتلو نښه ده، ځکه یې د کوپړۍ نیمه برخه الوتلې وه، د کیڼ غوږ مرکزي برخې یې له منځه تللې دي او د مخ عصبونه یې هم د مرمي او د نسجونو د شاک په ترڅ کې ټپي شوي دي.
له بده مرغه پښتون مېشتې سیمې د افراط او تفریط په بوږبوکې نښتي دي، چې هر یو دخپلې سیاسي څېرې او ټولنیز موقف لپاره هر معصوم او مظلوم د خپلې سیاسي لوبې قرباني کوي او په لنډو مرمیو یې ټپي کوي او په صحرايي محکمو یې نېست او نابود کوي. له خواشیني سره باید یاده شي، چې د سیمې د روزنې او پوهنې ګاډۍ هم د اور په تونل کې روان دی، چې لمبې یې هم ګاډی سوځوي، هم سیمه سوځي او هم خلک پکې پوپناه دي، خو بیا هم ژوند په هیلو خوږل شوی، نو پښتنه ملاله لیا ژوندۍ ده، چې د پوهنې د مشعل شغله وساتي او د برې تر پولې یې ورسوي.
یو شمېر لیکنو کې د سوات ملاله د میوند له ملالۍ سره پرتله کېږي، خو باید یاده شي، چې هره ملاله خپل تاریخي ځای او ارزښت لري. نننۍ ملاله د سیمې د ماشومانو د روزنې او پوهې د لوړې استازیتوب کوي، چې نن یې تاریخي رسالت پر ځای کړی دی او د سیمې د ماشومانو د کرېکې وینې د دغه سواتي ملالۍ له کوپړې په دارو شوې، چې نړیوالې رسنۍ او بشري ټولنې یې په خپله وینه سرې کړې، چې پایله یې د سیمې لپاره یو د پوهې الهام شو، خو د ملالۍ لپاره ماته کوپړۍ، جسمي معیوبیت او ذهني معلولیت، خو د پښتنو لپاره بیا همدا ملاله نړیوال محبوبیت شوه.
پایله
یوه ټولنه په انسانانو ښایسته او ژوندۍ ده، پرته له انسانانو هره سیمه وچ ډاګ دی. په ټولنه کې ملالې زېږېږي، چې لکه مست غاټول د سیمې دښتې پرې ښایسته کېږي او زموږ اروا پرې تازه کېږي. بیا وایم، چې پرته له غاټوله ځمکه شوره زار ده، رېګستان دی او سرآب دی، نو پرېږدی، چې زموږ ماشومان لکه غاټول غوندې زموږ دښتي پوښ کړي. ګلاب که تېز ازغي لري، نو تر څنګ یې د پاڼو خوندور مشک هم لري، چې روح پرې تازه کېږي، نو پرېږدی، چې زموږ د ډاګونو غوټۍ هم وغوړېږي، چې پاڼې یې د مینې په پرخو کې تازه شي، نو زه د سوات ملالۍ د روغتیا ترڅنګ د نوبل د جایزې د برې هیله کوم، خو پښتنو ته وایم، چې ملاله ستاسو ده، نو مه یې پردۍ کوی!

په درنښت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ